# افــغـــان شهــــــــــزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکایي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

# تأریخي نــاول

لیکوال : پـوهانـد بشیر احمد زکـریـا
د کولمبیا د پوهنتون دایمي پروفیسر

ژباړه : رحمت آریـا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# دریيم څپرکی

له دې سره سره چې د افغان سلاطينو په ژمنی پلازمېنې، پېښور، کې مې د دمه نيولو هېله لرله خو ومې نه شوی کړای چې د هندوکش په ګاونډ کې د پراته شنه او زرغونه پېښور له ښکلا او د هغه د سمسورو دَرو له ليدنګ څخه خوند واخلم ځکه دې ته اړ وم چې د ژمي له رسېدو مخکې د خيبر له تنګي څخه په وتنګ ځان کابل ته ورسوم.

امير دوست محمد خان ته د ليک په استولو، په کابل کې له دوو ورځو استوګنې وروسته ول چې په بالاحصار کې د هغه حضور ته د ورتګ اجازه راکړل شوه. پادشاه زما په ليدلو ډېر خوښ سو او ډېره پېرزوينه ئې راباندې ولوروله. امير دوست محمد خان د دربار په حضور کې ما ته په تودې مينې د «جنرال فِتح جيرول[۱]» خطاب وکړ او د «مصاحب[۲]» يا د دربار د ځانګړي پوځي سلاکار[۳] لقب او د کابل د پليو سرتېرو د قطعاتو د بولنې د مرکز دنده ئې راوسپارله. له امير دوست خان سره مې پېژندګلوي هغه مهال پېل سوه چې څو کاله مخکې د لومړي ځل لپاره کابل ته راغلی وم. امير ډېر لېواله وو چې لښکر ئې د مهاراج رنجيت سينګهـ د لښکر په شان پياوړې پوځي روزنه ووينې، هماغه رنجيت چې په ۱۸۱۳ز کال کې ئې د اټک په جګړې کې افغان دُراني پوځي ځواک ته ماته ورکړې وه. په زړه پورې دا وه چې افغان پاچا د سيکهانو د ستروالکی په دربار کې زما له خدماتو بشپړ او ژور معلومات درلودل. د امير دوست محمد خان له درباره د همدې ليدنې په ترڅ کې ول چې د پاچا له ګران زوی، د دربار له ولعيهد شهزاده اکبر خان او د هغه له مېړې زي سلطان احمد خان «سلطان جان» سره چې د پاچا برګتی وو د ليدلو وياړ را په برخې شو؛ د شهزاده دروندوالي او وقار دوني اغېزه راباندې وکړه چې په هماغو لومړيو کاتو کې مې په دهٔ باندې د دربار د رسمي وليعهد ګومان وکړ. امير د خپل ورور سردار محمد عظيم خان[۴] له مړينې وروسته خپل وراره د خپل حقيقي زوی په شان منلی وو. د افغانانو په منځ کې دود دی چې که ورور مړ سي نو د ورور کونډه بايد ژوندي ورور ته کښېنې.

لنډه دا چې د افغان دربار ددرننښت وړ يو غړی سوم. امير دوست محمد خان په ډېريو تشريفاتي غونډو او مېلمستياوو کې دنده راسپارله چې هغه ته نېږدې او يا کيڼ لور ته ئې دوې څوکۍ کښته کښېنم. له شهزاده اکبر خان سره د لومړی کتنې په لړ کې ول چې ژر د يو بل ډېر ښه ملګري سو او د وخت په تېرېدنې سره ډېر نېږدې دوستان سولو. شهزاده اکبر خان په خپلې منځنۍ ونې، پراخ ټټر او پلنو پياوړو اوږو کټ مټ د يوهٔ غښتلي وياړمن اتل او پهلوان په څېر ښکارېدهٔ. زړهٔ راښکونی او ترځکونی (مليح) غبړ او ربښتونی شاهانه چلند ئې درلود چې د يوهٔ ربښتوني او پتمن شهزادګي له شأن سره ئې زيب کاوهٔ. ما ته په زړهٔ پورې دا وه چې د شهزاده څېرې په خپل شنهٔ تيارهٔ رنګ کې تکې شنې سترګې درلودې او لږ شانته ګړګوټو (مجعدو) ګڼو وېښتانو ورته اروپايي څېره ورکوله. جامې ئې ډېرې ساده وې، هماغه عمومي جامې وې چې افغانان ئې د هر ډول ټولنيز دريځ په نهٔ پام کې نيولو سره که خان وي يا ګدا يو ډول ساده جامې اغوندي، لکه سپين کميس او پرتوګ، له څرمن جوړ کمربند يا د ملا

[۱] - General Fitsjerol
[۲] - Mus-a-hib
[۳] - Advisor Aid-de-Camp
[۴] - Sardar Mamad Azim Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دستمال[5]، له وړیو جوړ یو ټوکر چې پټو ئې بولي او په یو استوي یا څو استوي ډول ئې پر اوږو اچوي او پګړۍ. کندهاریان معمولاً د خپل کمیس ټټر او ځینې ئې ان د کمیسۀ لستوڼي، په ښکلو ګنډل شویو نریو ګلانو پسولي چې خلک ئې «خامک دوزي، غاړه او ګنډ» بولي او ډېري وختونه سپین زرین او ژیړ زرین رنګونه لري. شهزاده اکبرخان خپلې زده کړې، کړې وې، پوۀ او هوښیار ځوان او په هر ډول معلوماتو سمبال وو، اکبرخان یو کشمیرۍ استاد درلود چې په دَري/ فارسي، پښتو، تورکي، پنجابي او کشمیري ژبو ئې په روانۍ خبرې کولې او دوی به کشمیري آخوند زاده بالۀ. آخوند زاده، شهزاده ته د ژبو د زده کړې تر څنګ د افلاطون، ارسطو او د «سلطان الاطبا» ابن سینا کتابونه تدریسول او هم ئې د صوفي فلاسفه وو او د تصوفي شاعرانو کتابونه لکه د چشتیه د طریقې د صوفیانو، د مولانا جلال الدین محمد «بلخي» رومي، انصاري او نورو کتابونه ورسره ویل. افغانان د فارسیانو په شان د شعر او شاعرۍ له نړۍ سره زښته ډېره مینه لري. ډېري داسې وختونه راغلي چې له شهزاده، امیر دوست محمد خان او آخوند زاده صاحب سره مې د فلسفې او سیاست په اړوند له فیض و برکته ډکې شننې، وراشې او خوندورې خبرې اترې درلودلې دي.

پادشاه ما ته د بالاحصار په پوځي کلا کې د خپل ناسکه ورور سلطان محمد خان د استوګنې پراخ ځای ځانګړی کړ. امیر دوست محمد خان د سردار سلطان محمد خان پر ځانپالنې او ځانغوښتنې باندې شکمن شوی وو. امیر دوست محمد خان چې پر کشمیر او پنجاب دواړو باندې ئې د خپلې «بریـالۍ تورې[6]»[7] په مټ سوبه خپره کړې وه او دواړه ئې نیولي ول، یوه ورځ د سردار سلطان محمد خان لیدلو ته ورځي او ګوري چې سلطان محمد خان ئـې مخې ته پر خپل آس باندې په داسې حال کې راڅرګندېږي چې د خپل آس په پښو کې ئـې د سرو زرو کړۍ اچولې وې؛ د سلطان محمد خان دغه ځانښوونه وه چې دوست محمدخان د خپل سلطنت او تاج د مدعیانو په منځ کې یو مدعي وبالـۀ. له همدې کبله ول چې خلکو د سلطان محمد خان طلائـي په نامـۀ یاد کړ. په پای کې نوموړی سردار د بالاحصار له سلطنتي کلا څخه و شړل شو. ویل کـېږي چې سردار سلطان محمد خان د قرآن په یوې ژۍ کې سوګند لیک لیکلی وو؛ په لیک کې ئـې د خپل ځان او خپلو بچیانو تلپاتې بیعت یاد کړی وو او ژمنه ئـې کړې وه چې د ژوند تر پایه به دا سوګند مات نه کړي. دننه بالاحصار چې کټ مټ یوۀ وړوکي کلا لرونکي ښارګوټي ته ورته دی او په منځ کې ئـې څو تنو هندوانو، اروپایانو، یهودانو او عیسوي ارمنیانو هم ژوند کاوۀ، هغوی په خپلو منځو کې بین النژادي وَدونه کړي ول او د یو بل ترڅنګ ئـې په آرامۍ او همغږۍ ژوند و ژواک کاوۀ، حال دا چې له دغـۀ ښارګوټي دباندې، ملایانو عوام خلک نـۀ پرېښـودل چې د نورو ادیانو له پیروانو سره نـږدې سي.

په بالاحصار کې د همدوني نـږدې والي له کبله ول چې اعلیحضرت، شهزاده اکبر خان او سلطان جان ته ډېر نـږدې شوم. د توپخانې او د پلي کنډک د روزلو او د ورځنیو چارو له سرته رسولو وروسته د اونۍ د رخصتیو په ورځو کې به د دواړو شهزادګانو په ملتیا د پغمان دَرې ته لاړو؛ پغمان د کابل له پاسه

---

[5] - sash belt په عربي کې ئـې ظهـاره بولي او د کتان یا وربـښـمو یو ټوکر وو چې پخوا افغانانو تر ملا تاړۀ. نن زموږ د هـېـواد بزګران او کارګران هم چې درانده فزیکي کارونه کوي یو ټوکر تر ملا تړي. خو په پخوا وختونو کې د جامو لـۀ پاسه د ملا د دستمال تړل یو دود وو، د جامو یوه برخه وه او پـه پښتنو کې ډېر دود وو. ددغه دستمال اصلي پښتو یا دري نوم راته نه دی څرګند له همدې کبله مې د ملا د دستمال په لیکلو بسنه وکړه. پـه دري کې د «کمر چین دستمال» پـه نامـۀ یو څه مې ذهن ته راګرځي خو ډاډه وربـاندې نـۀ یم. ژ

[6] -"Victory Sword"

[7] - (Baryalay Toora)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پروت دی چې د ښکلو ځروبیو (آبشار) او د بوډۍ ټال د کبانو د نیولو لپاره د مناسبو ویالو او ګلبڼونو په لرلو خورا لوړ نوم لري. کله کله به ګلبهار ته هم تللو چې هغه هم د پغمان په شان زموږ د زړه د خوښې ځای وو؛ ګلبهار د پنجشیر د یاغي سیند له پاسه پروت دی، د توندو اوبو بهیر چې خپله لاره د سلهاوو زرو پلنو کاڼو او ډبرو په منځ کې مومي داسې یو هیبتناکه غړمبا را منځته کوي چې د خبرو اترو پر مهال به ئې اړ کړو چې د سیند له څنګه یو څه لیرې ګوښې ګوټ ته کښېنو.

یوه ورځ د اونۍ د رخصتۍ د نورو ورځو په شان په آس سپارۀ د پغمان د لوړو او دنګو سیمو پر لور وخوځېدلو، او د ویالې د سرځوړو خواوو په ډډو کې مو د بوډۍ ټال د کبانو په نیونګ پیل وکړ. زموږ بدرګه آس سپارۀ هم له خپلو آسونو راکوز شول، غالۍ ئې د غرۀ د ډډې په یوې دنګې څوکې باندې چې زرغون واښۀ وربانديې شنۀ ول واچولې او ډوډۍ ئې د غوړېدلي دسترخوان پر مخ واوڼله. موږ ښکاریانو هڅه کوله چې له خپل بدرګه ایړ «قافله» څخه وړاندې وخوځېږو ترڅو د سباوون د لمر د وړانګو له ځرک مخکې د یوۀ لوړ غرۀ څوکې ته وخېږو، له آسانو راکوز شولو او پاتې لاره مو په پلې او خاپوړو تر هغو ووهله چې د غرۀ تر دنګې څوکې لاندې د اوبو یوې مشهورې چینې[8] ته ورسېدلو او د سهارني لمر د وړانګو راختلو ته سترګې په لار کښېنستلو.

د لمر وړانګو لا ځرک نه وو وهلی چې د غرۀ له څلورو خواوو څخه ښکلي آسیایي زرکان راوالوتل، د وزرونو کړس ئې د غره په ناونو کې ازانګې خپرې کړې، او څو شېبې وروسته د غټ شخول په شور کې د غرنۍ اوب- چینې مخې ته د ډنډ پر غاړې کښېنستل. د ډنډ تر غاړې د زرکانو د شمیر په ډېرېدو سره د نارینه زرکانو ښکلی سندریز شخول شېبه په شېبه لوړېدۀ. شهزاده اکبر خان موږ ته ویلي ول چې غرۀ ته د ختلو او د لمر د وړانګو ځرک ته د انتظار پر مهال باید بشپړه چوپتیا وساتو. د هغۀ له لارښونې سره سم موږ باید د زرکانو په راټولېدا او د لمر د رڼا له خپرېدا سره سم د شهزاده د لاس نغوتې ته سترګې په لار وَی چې د ټوپکو ډز مو کړی وَی. د غرۀ د دنګې څوکې طبیعي ښکلا، د سهارني آسمان رنګینو کوډګرو څنډو او د زرکانو سندریز شخول په دې سیمې مین کړی وم. شهزاده هغه مهال خپل لاس ناڅاپه پورته کړ چې د مرغانو یوه لویه ډلـه هر لور ته په الوتو شوه او په خړ سهار کې د دوی د وزرونو کړس په فضا کې خپور شو او له دې سره سم مو ډزې وکړې. وروسته په چټکۍ د غرۀ د لویو کمرونو سرونو ته وختلو او د شهزاده د خوښۍ لپاره مو اووه مرغۍ راټولې کړلې. له غرۀ څخه د بېرته راکښته کېدلو په لارې کې شهزاده راته وویل چې پنجشیریان له دغو مرغانو څخه تر ټولو ښه کباب جوړوي؛ دوی لومړی مرغۍ پاکوي او بیا ئې د دوو پلنو ډبرو پر مخ غوړوي او د لرګیو په اور ئې پخوي. خپل میله ځای ته له رسېدو سره سم زموږ د غرمې ډوډۍ چمتو وه؛ د غرمې ډوډۍ مو له دغو خوراکي توکو جوړه وه: د وُرې غوښه، د چرګ کباب، اوږدې نصواري رنګه وریجې چې «پلو» ئې بولي او ورسره د وُرې د ورانۀ غوښه هم وه، سپینې وریجې چې «چلو» ئې بولي، کوفته او پالک، بېلابېلې «خوږې، تروې او تراخې» چټني ګانې، د تورو باټینګړو اچار، د تروو زیړو آلوګانو اچار او مستې. ډېرې وختونه به یو ربابي له رباب سره هم بدرګه وو؛ رباب د افغانستان د ټنګ ټکور یوه لرغوني

---

[8]ـ په دې شرحې ئې چې لیکوال د سیمې شرحه لیکي ښایي موخه ئې په پغمان کې د دنګ غرۀ پر سر یو ټکی وي چې د سیمې خلک ئې د «حوض خاص» پـه نامـۀ یادوي. دا ځای په رښتیا هم یو حیرتناکه هیبتناکه ځای دی چې د غرۀ لـۀ دنګې څوکې څخه اوبـۀ له یوۀ طبیعي ډنډه راخوټېږي. له همدغـۀ ټکي څخه د کابل ټول ښار، د پروان او بامیانو غرونه په آسانۍ لیدل کېږي. – ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

آله ده چي له شپېږو تارونو څخه ئـي زړۀ ته ټکور بخښونکي وَل په وَل سندريز غږونو پورته کېږي او د مخي دواړو ډډو ته ئـي يو درځن نري اوسپنين مزي د اهتزاز او يو بکس وزمه منځتشی نس، د غږ د ازانګي لپاره لري. د موسيقي دغه آله د میناکاری او مستظرفه صنعت په ښکلي ډيزاين ګلميخ شوي وه. شهزاده اکبر خان د موسيقی له خپل هندي استاده ډېره ښه موسيقي زده کړې وه. نوموړی له هندي راګونو، کلاسيکي موسيقی او سندرو سره آشنا وو. ډېري افغان سرداران نـۀ يوازې د هند له کلاسيکي موسيقی سره آشنا ول بلکه له کلاسيکو نڅاګانو لکه ملي اتڼ، د کوچيانو له نڅا او د هندي کتک له ګډا سره هم آشنا ول. له خوندوري ډوډۍ وروسته نور خواږۀ راوړل شول لکه فرني، ماغوت او ورپسي د افغانستان خوږې ميوې او د پنجشير نامي توت راوړل شول. موږ دا توت په شرومبو کې پريمينځل چي ظاهراً د ګېډې د تيزابي سوء هاضمي لپاره ګټور کار دی.

شهزاده اکبر خان راڅخه وپوښتل :" فيتځ جيرول وروره! ستا کوم ډول موسيقي خوښه ده؟" په ځواب کې مې ورته وويل :" ګرانه شهزاده صاحبه! موږ په امريکا کې يو ډول موسيقي لرو چي فولکوريکه او کلاسيکه موسيقي ئـي بولو چي په حقيقت کې د اروپايي موسيقی يو ډول دی. خو موږ امريکايان ځانته يوه ځانګړې موسيقي لرو چي د جاز روحاني موسيقي ده او دا د افريقايي مريبو د موسيقی يوه برخه ده. زما دا ټولي خوښـېږي. " شهزاده اکبر خان بيا وپوښتل :" تاسو ډېـر افريقايي مريبان لرئ؟"

ورته مې وويل :" صاحبه! هماغسي چي تاسو د خپلو حَرمونو امنيت نيسئ، موږ هم څو ميليونه مريي بزګران لرو. مګر زه د يوۀ امريکايي په توګې د مرييتوب کلک مخالف يم او د امريکا د انقلاب په هغو اصولو باور لرم چي له منځه ئـي امريکايي ډيموکراسي راپنځـېدلي ده."

شهزاده اکبر خان : " زموږ د مرييانو شمير لږ دی، هر کله که وغواړي تللای شي دا ځکه چي داسي اسلامي قانوني حکم شتون نه لري چي هغوی دې د مرييي په توګې وساتو. زه هم ستاسو په شان له مرييتوب سره په کلکه مخالف يم، ځکه چي پيغمبر له مرييتوب سره مخالف وو؛ خو دا خلک دي چي له دغو ايدیالونو څخه ناوړه ګټه پورته کوي او لرغوني وروسته پاتي فرهنګ ته مخه کوي. تاسو له امريکايي ډيموکراسی څخه يادونه وکړه، غواړم له تاسو وپوښتم چي امريکايي ډيموکراسي له نورو ډيموکراسيو څخه څه توپير لري، او که په شمارلو ټکيو راته ووایاست چي امريکايي ډيموکراسي يعني څـۀ؟"

تل مې له ځان سره د امريکا د استقلال يوه کټ کړې غونجي شوي اعلاميه په يوۀ څرمنين پوښ کې د خپلو کتابونو په منځ کې ايښودله او له ځان سره مې ګرځوله. دغه اعلاميه مې د کتابونو له منځه را وايستله او خپل کوربانـۀ ته مې ورښکاره کړه او ومې ويل :" تامس جفرسن هغه څوک دی چي زه ئـي د امريکا د ډيموکراسی پلار بولم او دا اعلاميه تامس جفرسن ليکلي ده؛ د اعلاميي په پېـل کې داسي ويل شوي دي :« موږ ټول په دې ساده حقايقو پوهېږو چي لوراند پنځونکي ښښتن ټول انسانان برابر پنځولي دي او همدغه ستر ښښتن دوی ته ټاکل شوي نـۀ سلب کېـدونکي حقوق ډالی کړي چي د ژوندانـۀ حق، خپلواکي او د سوکالی لټون ئـي څو وړوکي برخي دي...»"

شهزاده په ډېـرې ميني وويل :" دا هغه تر ټولو ښکلي کلمات دي چي تر اوسه مې نـۀ ول اورېدلي. دا څومره ستر انسان وو. په رښتيا چي لوی انسان وو." " آيا هغه جنګيالی هم وو؟"

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونـه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خبره مې ورځواب کړه:" نه ښاغلی شهزاده، نوموړی یو نجیب ځمکوال وو، له نبوغه ډک نوښتګر وو چې د خپلې پوهې ډېری برخه ئې په خپله د کتابونو د لوستنګ له مخې راټوله کړې وه، هغه یو حقوقپوهٔ او سیاستپوهٔ وو چې زموږ د جمهوریت دریم جمهور رئیس شو. جنګی سړی هغه څوک وو چې د برتانویانو پر وړاندې وجنګېد، نیول شوې ځمکې ئې آزادې کړې او تر ډېره ئې د امریکا د متحده ایالاتو د رامنځته کولو په لارې کې کار وکړ، هغه جورج واشنګټن وو چې زموږ د لومړي جمهور رئیس په توګې وټاکل شو."

شهزاده اکبر خان وپوښتل :" امریکایي ډیموکراسي د برتانیې له ډیموکراسۍ سره څهٔ توپیر لري؟"

د یوې ژورې ساه له ایستلو وروسته مې وویل :" ښه نو جناب! ددې داستان لړۍ ډېره اوږده ده، که په لنډیز ئې ووایم د جمهوریت موضوع او محتوی له یونانیانو راپېلېږي، بیا رومیانو ته وررسېږي؛ په لاتین ژبې کې جمهوریت ته " رِس پبلیک[9]" وایي یعنې ټولنیزې چارې، یعنې د پرګنو چارې. دا د پرګنو په واکمنۍ پورې اړه لري، په بلې وینا دا د یوهٔ ځانګړي سړي یا د کومې ځانګړې ډلې واکمني نه ده د بېلګې په توګې اشراف یا هغه ډلې چې ځانګړې ګټې لري لکه سوداګر، پوځیان او یا دیني بنسټونه. برتانویان یو پاچا او یو سلطنتي رژیم لري؛ موږ یو جمهور رئیس او یو جمهوریت لرو. د امریکا او برتانیې د دولتونو بڼې له یو بله توپیر لري خو په دواړو دولتونو کې واکمني، په هماغې ډیموکراتیکې واکمنۍ کې پر مخ درومي. په بلې وینا په هرې ټولنې او یا په ډیموکراتیک ملت کې هر بالغه تبعه د ولس - استازې واکمنۍ په غوره کولو کې د ټاکنې برابر حق لري چې بیا همدغه ولس استازې واکمني پرې واک چلوي او دا د استازوالې ډیموکراسۍ په نامهٔ یادېږي. له بل پلوه که ددولت هر تبعه د ټولنې د راټلونکې برخلیک د ټاکنې په بهیر کې، وغواړي د خپلې رأیې له لارې، په خپلې نېغې ونډې اخیستنې ګډون وکړي کټ مټ لکه د آتن په شان، ښاري دولت، مساوات او ټولنیز عدالت رامنځته کړي نو دې ته د ریفرانډم ډیموکراسي یا ټولپوښتنه وایي. موږ د مشرانو او ولسي جرګه ټاکو چې زموږ د ټولنې مقننه هیئت دی او دوی زموږ هغه استازي دي چې قوانین وضع کوي حال دا چې خپل جمهور رئیس د ډیموکراټیک ریفرانډم له لارې ټاکو."

شهزاده اکبر خان وویل :" څوني په زړهٔ پورې، موږ هم د زرهاوو کلونو لرغونی دود لرو، د جرګو او مرکو دود چې په ترڅ کې ئې وګړي په کلیو او ښارونو کې د هغوی د ټولنیز دریځ په نهٔ پام کې نیولو سره، په برابر ډول راټولېږي؛ هېڅ څوک نه شي کولای په غونډې کې ځان تر بل لوړ وګڼي، ټول له یو بل سره برابر دي او په دې ډول د کلیو او ښارونو په چارو کې د ټولنیزې همغږۍ او وفاق له لارې ونډه اخلي او دا کټ مټ ستاسو د ریفرانډم د ډیموکراسۍ بڼه لري. له بلې خوا په لویو جرګو کې زموږ پرګنې له هر ولایت او هره قومه خپل استازي ټاکي، په لویو جرګو کې د سولې او د جنګ پرېکړې نیول کېږي، د دولت د شکل او د امیر یا پاچا د ټاکنې پر څرنګوالي خبرې اترې کېږي او داسې پریکړې نیول کېږي چې ټولو ولایتونو ته د منلو وړ وي او دا ستاسو د «استازوالي ډیموکراسۍ» بڼې ته ورته ده. یو سلو شل کالهٔ مخکې په ۱۷۰۷ز کال کې هوتکي میرویس خان د پادشاه په توګې وټاکل شو خو میرویس خان د شاهي تاج په ډېرې تواضع ونهٔ مانهٔ او د یوهٔ خیر غوښتونکي پلار په شان ئې د ملت لارښوونه وکړه او موږ ئې د بابا په نامهٔ یادوو. څلویښت کالهٔ وروسته په ۱۷۴۷ز کال کې لویې جرګې احمد خان

[9] - Res Publica


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وټاکـهٔ چي د معاصر افغانستان لومړنی ستړواک «شهنشاه» شو او وروسته ورته د «ملت د پلار» لقب غوره شو. د اسلام د تأریخ پر بنسټ د اسلام پیغمبر محمد «ص»، د عهد عتیق د پیغمبرانو په شان نـهٔ یوازې د الله تعالی «ج» له پلوه د وحیي له لارې غوره شوی وو بلکه د مدیني د خلکو له پلوه د اسلام د خلیفه په توګي وټاکل شو. ویل شوي چي د اسلام د دریيم خلیفه «حضرت عثمان رض» پر مهال نـهٔ یوازې نارینه وو د خلیفه په ټاکني کي ونډه واخیسته بلکه ښځو هم په ټاکنو کي برخه واخیسته.

په دغو ټولنو کي د فساد له خپرېدا سره سم، ډېـریو کسانو پخوانیو ککړو دودونو ته مخه کړه؛ هغه ورانی او ناتار چي چنګیز خان تر شا پرېښود او په څوارلسمي پېـړۍ کي چي د بابل د اجتهاد دروازه « باب التفسیر القرآن» وتړل شوه، زموږ د څلانده مدنیت دَور هم پای ته ورسید. له هغي مودې نیولي تر نن پورې موږ دا وړتیا نه ده موندلي چي هماغه پـَیـر بیا راژوندی کړو. زما په باور که ستاسو له لارې او یا زموږ له لارې وي، یوازې د همدغو انساني تګلارو په راخپلولو، د بشري هڅو، د زیار او د بـېـلابـېـلو خواریو د ګاللي له لارې کـېـدای شي څوک هماغي ربښتوني او وروستنۍ هیلي یعني بشریت ته د سوکاله ژوندانـهٔ د برابرولو موخي ته ورسـېـږي."

ما د شهزادګي له خبرو سره د همغږۍ په څرګندولو وویل :" ښاغلی شهزاده! تاسو چي څـهٔ وویل او د هغـهٔ څـهٔ په لټون پسي چي زه راوتی یم، دواړه ئـي یو بل ته ورته دي. تامس جفرسن د جمهوریت په معنوي ارزښتونو ایمان درلود او په اصولو کي ئـي څان د «توري[10]» ( محافظه کاری) له پیاوړو پیروانو څخه ګاڼـهٔ او له " سلطنتي پرتم" سره ئـي مینه لرله. ښاغلی اعلیحضرت! زه د برتانیي له امپریـالیزم څخه کرکه لرم خو په دې باور یم چي عالیه څواک باید د یوهٔ یوګړي او ټاکل شوي وګړي په څان کي راټول شي، او داسي یو نرم چلنده لارښود وي چي افلاطون په خپلي فلسفي کي سلطان یا جمهور رئـیس بللی دی. په دې لارې کي موږ له انګیس څخه منندوی یو چي د لومړي څل لپاره ئـي د (ستر منشور) «مګنه کارتا[11]» له لارې د مطلقه شاهي څواک لمنه رالنده کړله. زما په باور، د لویدیزې ډیموکراسي غښتلی بنسټ د دولسمي زېـږدیـزې پېـړۍ په ستر منشور کي پروت دی. د الکسندر په اړوند زما څـېـړني او له هغـهٔ سره زما مینه د خیالونو د نړۍ له یوې ناپایه لمني څخه سرچینه اخلي چي د بشریت د ګټو لپاره د تصور وړتیا ئـي د نـهٔ فنا کـېـدونکي لوراند ځښتن په ذهن کي شکل نیولی دی، د نړۍ د کم پیدا ستړواکانو په منځ کي دغه نړۍ واله بشر پال بل هـېـڅ څوک نه شي کـېـدای مګر دا چي د زړونو د پاچاهی سوبمن واوسي. باید ورغبرګه کړم چي د امریکا د ډیموکراسی معمار تامس جفرسن، په داسي یوهٔ حکومت باور درلود چي شعار ئـي «موږ پرګني یو» وي؛ یو څل بیا مي له خپلي څرمنیني کڅوړې څخه د تامس جفرسن کتاب راوایست او د کتاب دا برخه مي ټکي په ټکي ورته ولوستله: " زه په قوانینو کي د متکرر او یو ناڅاپه بدلون دفاع نـهٔ کوم. خو قوانین او بنستونه باید د بشري ذهن له پرمختګ سره سم پرمخ لاړ سي. متمدنه ټولنه د تنکي ماشوم حیثیت لري چي باید د خپلو شډلو نیکونو تر سیوري لاندې ژوند وکړي، له دې کبله موږ هم ښایي داسي یوهٔ مشر ته اړتیا ولرو چي د خپل اندام په اندازې متناسبي جامي واغوندي."

شهزاده اکبرخان په لوړ غږ وویل :" ډېـر عالي سردار فیتځ. ډېـر ښـهٔ ئـي ویلي دي! ستاسو تامس جفرسن باید د بشریت د نوابغو په منځ کي یو له نوابغو څخه وي. زموږ د روڼ اندانو په منځ کـي یوهٔ ئـي ویلي «موږ د یوګړو«منفردو» کسانو په توګي هغه څـهٔ چي په یوازې سر ئـي هیلي او خوبونه بولو هماغسي د

---

[10]- Tory: د کتاب پـهٔ پای کي ئـي شرحه کي وګورئ
[11]- Magna Carta د کتاب پـهٔ پای کي ئـي شرحه کي وګورئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خوبونو په خيالي نړۍ کې پاتې کېږي، خو که هماغه خوب ټول په ګډه ووينو څرګنده ده چې هغه به د ملت په خوب بدل شي او د ملت همدا جمعي خوب او هيله ده چې په پای کې له حقيقت سره پيوستون مومي.» ستاسو سترو مشرانو اوچت خوبونه ليدل خو دا د امريکا ملت وو چې خپل جمعي خوبونه ئې د حقيقت تر پولو ورسول. يوازې د امريکايي ډيموکراسۍ د نامـهٔ او د هغې د لاسته راوړنو اوريدنګ ما ته دا لېـوالتيا را په زړهٔ کوي چې حقيقت ئـې د سر په سترګو ووينم. ښايي داسې يوه ورځ راورسېږي چې بشريت ځانته يوه نوې نړۍ جوړه کړي. بلخي مولانا ويلي چې ښې خبرې اترې لوړ غنيمت دي. په دې نړۍ کې تر ښـهٔ خوراک، ښـهٔ مَرَکچي، ښکلې موسيقۍ او ښکلې وراشې پورته بل ښـهٔ شی نه سته چې تا د اوو جنتونو په منځ کې د يوهٔ ښکلي جنت لوړ ګوټ ته ورسوي. زموږ خبرې دوني خوندورې وي چې ان د زمان و مکان په لمن کې مو خپل حضور هېـر کړی وو. مخکې له دې چې اعليحضرت خپل سپارهٔ په موږ پسې راولېـږي بايد د بالاحصار پر لور وخوځېـږو."

مستخدمينو مخکې له مخکې خپل بارونه او اسباب راټول کړي او تړلي ول او بېـرته تګ ته چمتو ول. موږ ټول پر خپلو آسونو باندې سپارهٔ سوو او د پغمان له دنګو لمنو څخه راکښته سوو. د لمر له کښېـناستلو سره سم د آسمان په لېـرې څنډې کې د مرغستو «نرېو» وريځو سرې کرښې راڅرګندې شوې، د لمر له ډوبېـدا سره سم د هندوکش په وارو پوښلو څوکو او د شنـهٔ آسمان پر مخ سره او نارنجي پرده وغوړېدله او ماښامنۍ تږَرمۍ ورو ورو په خپرېـدو وه.

**********************


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ